مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۸/۱۱/۲۲

# ستا د نه شتون د وير شېبې شميرمه



لاړې او وې دې چې زه وير ونکړم

ما هم خندل

او د خندا ځپو کې

ستا د نه شتون شېبو کې

د وير ځو غرونه مخامخ راروان

زما د زړه کلي کې يې واړول

نه تلونکي ميلمانه شول راته

بيرته را ياد شول چې:

ويرمن يمه،

غمجن يمه،

د وير پيټی لرمه

پر خپل سر، خپلو اوږو او پر خپل زړه باندې مې

بيا ځلي ځالي ته راستون شومه

د وير له درانه پيټي سره

اوس ورته ناست يمه

حيرانه ننداره يې کوم

ستا د نه شتون د وير شيبې شميرمه

۲۰۱۸/۱۰/۱۸
هيدرسليف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ